مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب سپین غر

۲۰۲۶/۱۰/۱۱

# لېور

د لیویرات (Levirat) کلمه د لرغوني لاتیني ژبې له لیویر (Levir) څخه رااخسیتل شوې چې مانا او مفهوم یې کټ مټ همدا د پښتو ژبې لېور راخیژي. لېور ته د افغانستان پارسي ژبې (ایور/یور) او په روسي کې دېویر (Деверь) وايي چې دا رېښه او ورته والی د حیرانتیا تر کچې د دغې کلمې د هندو- اروپاییوالي څرګندویې کوي. له کولتوري او تاریخي پلوه لېویرات یا «لېورنکاح» په یهودانو کې د مړه شوي مېړه له ورور، یاني لېور سره د کونډې ورېنداري نکاح/ واده ته ویل کېږي. البته دا دود په پښتنو کې هم په پراخه توګه تر سترګو کېږي، خو کومه ځانګړې او ټاکلې ژبنی نومَونه/اصطلاح ورته تر اوسه نه ده کارول شوې. پخپله په تورات کې هم د لېور د کلمې مفهوم څو ځایه تر سترګو کېږي چې غوره بېلګه یې د (Levitikus) یا «سفر لاویان» په نامه یو جلا څپرکی دی. همدا رنګه د تورات د «پیدایښت سفر» په ۳۸ باب، د لیوی یون (سفر لاویان) په ۱۶، ۱۸، ۲۰ او ۲۱ بابونو او د تثنیه یون (سفر تثنیه) د ۲۵ باب په ۵ ـ ۱۰ ایاتونو کې د «لېورنکاح» په باب بشپړ مالومات، امر و نهی او لارښووني وړاندې شوې دي. په تلمود کې چې د یهودانو د سپېڅلي کتاب - تورات تفسیر او فقه ګڼله کېږي، د دې دود د سپیناوي په موخه راغلي چې مړ شوی ورور باید بې بچیانو، په تېره بې زویه او د ورېنداري نوی مېړه ( لېور) هم د ځوانۍ عمر ته رسیدلی وي. د «لېورنکاح» موخه د ځمکې او میراث ساتنه او کونډې ته د ژوند د دوامنو شرایطو چمتو کول بلل کېږي. د تلمود په وینا، که چیرې د کونډې مشر لېور د واده کولو وړتیا و نه لري، نو باید بل لېور یې په نکاح کړي. که چیرې کشر لېور د واده عمر ته نه وي رسیدلی، نو کونډه باید تر هغې پورې یا له خسر کره او یا هم د خپل پلار په کور کې کېني چې لیور یې راځوان او واده کولو ته جوړ شي. د یهودانو د دې دود موخه د میراث له پاره د نارینه بچي زېږونه او د مشر زوی د نوم او نښې نه ورکېدنه بلل شوې ده. د «لېورنکاح» دغه دود یوه دیني وجیبه وه، خو په پر ځای کولو کې یې د دواړو خواوو خوښه یو مهم شرط و. که چیرې لېور نه غوښتل چې خپله کونډه ورېندار په نکاح کړي، نو ورېنداري حق درلود د مشرانو او سپین ږیرو په وړاندې له خپل لېور څخه څپلی وباسي او یا د هغه پر مخ او یا یې هم په مخ کې پر ځمکه لاړې تو کړي.

(وګورئ: د تثنیه سفر د ۲۵ باب له ۵ – ۱۰ ایاتونه او د پیدایښت سفر ۳۸ باب).

لېورنکاح ته په ایران کې «زن برادر ستانی» او په انګلیسي کې ( levirate marriage)وايي. ویل کېږي چې د «لېورنکاح» دود په ایران کې تر یوه ځایه د تورکمنانو او لرانو تر منځ باب دی. د ایران او عراق له جګړې وروسته چې زیات شمېر نارینه په کې ووژل شول، دا دود څه ناڅه پراخ شو، خو سراسري بڼه نه لري. پوښتنه دا ده چې ایا د لېور کلمه او د لېورنکاح دود له لاتیني ژبې او یهودانو څخه پښتنو ته رالیږدېدلی او که له پښتو او پښتنو څخه لاتین او یهودانو ته ورلیږدیدلی دی؟

**وینه**

پر لېور سربېره په لاتیني ژبه کې د وینه/وینا(Vena) ، ویني (Vene) یاني رګ او ویندیتا (Venditta) کلمې هم ډېرې په زړه پورې دي چې د پښتو ژبې له وینې او پښتنو د وینې د غچ (وینغچ) له دود سره په یوډول نه یو ډول تړاو لري. د پښتو له وینې سره د لاتین د (Vena) او روسي ژبې د (вена) یاني رګ توپیر په دې کې دی چې هلته دغه کلمې د رګ (وینې رګ = وینرګ) مانا ورکوي او په دې توګه یې له وینې سره یو ډول ناسیده تړاو مونډلی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دی. خو څرنګه چې رګ هم زړه او بدن ته د وینې د لیږدولو دنده لري، نو په هر حال یې له وینې سره تړاو ټاکونکی دی. په یوناني کې بیا رګ ته فلېوا (Fleva) وايي چې د زړې یوناني له فلیبو او فلیباس څخه اخیستل شوې ده. په زړه پورې ده چې په ایټالوي ژبه کې د لاتین وېنا (Vena) کلمه په یوه بل مورد کې هم کټ مټ د پښتو ژبې د وینې په مانا کارول کیږي او هغه د وینې غچ یا بدل دی چې پر ایټالوي ورته ویندیتا (Venditta) وايي. دغه دود په تېره د ایټالیا د سیسلي مافیا د «اصولو» له کبله همدا اوس هم لا ژوندی دی. که د مافیا یوه ډله (کورنۍ) د بلې ډلې کوم غړی ووژني، نو د وژل شوي کس د وینې غچ باید واخیستل شي، چې دې «دود» ته په ایټالوي ژبه کې ویندیتا یانې وینغچ وايي. البته ویندیتا په ټولیزه توګه هم غچ او انتقام (وینغچ) ته ویل کیږي. لکه چې لیدل کیږي، پورتنۍ بیلګې د نړۍ له ډېرو لرغونو او بډایه کولتورونو، ژبو او ولسونو سره د پښتو ژبې او پښتنو د نږدېوالي ډېرې جوتې نښې او شواهد دي او د ژبو د هندو- اروپاییوالي پر ګډه ریښه دلالت کوي. لکه د لېور په خبر، د وینې د کلمې په باب هم ورته پوښتنه رامنځته کیږي او هغه دا چې ایا دغه کلمه له پښتو نه لاتین ته کوچېدلې او که بر عکس لاره یې وهلې ده؟

جرمني، ۲۰۰۷ دسمبر ۱۸



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ